د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

چهارشنبه 1 شوال، ۱۴۴۵هـ    ۲۰۲۴/۰۴/10م    گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۵/13

مطبوعاتي اعلاميه

# د کوچني اختر رارسېدو په مناسبت د حزب التحرير – ولايه افغانستان د مبارکۍ پيغام

د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر د کوچني اختر رارسېدو په مناسبت د نړۍ ټولو مسلمانانو ته مبارکي وايي. د رحمت، مغفرت او د دوزخ له اور څخه د خلاصون مياشتې په ختمېدو؛ د ارحم‌الراحمين رب له دربار څخه په ډېرې عاجزۍ غواړو چې د ټولو مسلمانانو روژې، عبادتونه، صدقې او مبارزې يې قبولې کړې وي او د اسلامي امت پر مخ د خير او برکت، نصرت او بريا دروازې خلاصې کړي.

اختر د مسلمانانو د خوشالۍ ورځې دي؛ خو سږ کال په اسلامي نړۍ کې داسې پېښې شوې چې زموږ پر دغې خوښۍ يې خپل سيورى غوړولی او اسلامي امت يې د خپل تاريخ په يوه له تر ټولو تياره دورو کې اچولی. په تېرو شپږو مياشتو کې د غزې پر مسلمانانو داسې ترخې پېښې راغلې چې د نړۍ خلکو د لومړي ځل لپاره جنايت او نسل‌وژنه په کتابونو کې نه، بلکې په ژوندۍ بڼه د خپلو ټلويزيونونو له لارې وليده. له بده مرغه، د غزې له ويجاړۍ او د سلګونه زرو کسانو له وژل کېدو او ټپي کېدو سره، لا هم مړه وجدانونه ژوندي نه شول. وحشي يهود د امريکا، انګلستان، اروپايي اتحاديې او د اسلامي خاورو د خاينو حکامو په مرسته د فلسطين د ښځو او ماشومانو ټول‌وژنې ته دوام ورکوي.

خو د دغې تياره او غمجنې دورې په زړه کې د هيلو يوه رڼا ليدل کېږي چې د غزې خلکو په خپل صبر او استقامت بله کړې. د غزې خلکو په خپل استقامت او مجاهدت په دغې سخته فتنه کې د نړۍ خلکو ته اسلامي ارزښتونه له سره وروپېژندل او ورته ثابته يې کړه چې کوم قوم اخرت تر دنيا پورته بولي او د الله سبحانه و تعالی رضايت تر رزق او امکاناتو غوره ګڼي؛ تر ټولو پياوړي خلک دي. ومولیدل چې د يهودي دولت ټانکونو او الوتکو د غزې ودانۍ ويجاړې کړې، خو د خلکو فولادي عزم يې مات نه شوی کړی. تاريخ به د هغې مور زړورتيا په ياد لري چې د خپل اولاد پر شهادت يې د اوښکو تويولو او چغو پر ځای، شکر او وياړ کاوه او نورو ته يې د دغې خوښوونکې پېښې خبر ورکاوه.

له بل لوري، د غزې پېښو وښوده چې امت نور پر هغوی تپل شوې پولې او خرڅ شوي حکام نه غواړي. ومولیدل چې له بېلابېلو خاورو مسلمانو ځوانانو هڅه وکړه چې پلې فلسطين ته لاړ شي. دغه راز د يهودي دولت جنايتونو د غربي استعمارګرو دولتونو، بنسټونو او خوسا ارزښتونو اصلي څېره وښوده او ثابته يې کړه چې غرب په ډېر ژور اخلاقي او ارزښتي ناورين کې دی؛ مګر غرب کله اخلاق او ارزښتونه لري!!

يو ځل بيا له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو چې دا اختر د مسلمانانو لپاره د خير، برکت او نصرت پيلامه کړي چې راتلونکی اختر د دوهم راشده خلافت دولت په سيورې کې او تر لواء او راية العقاب ﴿لا إله إلا الله محمد رسول الله﴾ بيرغونو لاندې ولمانځو. حزب التحرير د اسلامي امت د

نهضت او خلافت د تاسیس له لارې ریښتیني وحدت لپاره د الله سبحانه و تعالی په مرسته او توفیق خپلې سیاسي او فکري مبارزې ته همداسې دوام ورکوي او په دې لار کې د هېڅ ملامتوونکي له ملامتۍ نه وېرېږي.

﴿فَالَّذِينَ آمَنُواْ بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُواْ النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [الاعراف: ۱۵۷]

**ژباړه:** *«نو ځا چې پر هغه (پیغمبر صلی الله علیه وسلم) ایمان راووړ، د هغه حمایت یې وکړ او نصرت یې ورکړ او له هغه نور (قران) څخه یې پیروي وکړه چې پر هغه (صلی الله علیه وسلم) نازل شوی – همدوی بریالي دي»*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**